## د یوه نامتو دعوتګر د وفات خبر

(ژباړه)

**[مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلاً]** [احزاب: ۲۳]

**ژباړه:** *«په مومنانو کې داسې کسان شته چې له الله سبحانه وتعالی سره یې کړې ژمنه صادق او رښتینې ولاړ دي. ځینو خپلې ژمنې پوره کړې (د شهادت شربت یې وڅښل) او یو شمېر نور په تمه دي او خپله ژمنه یې هېڅ وخت تغیر او تبدیل نه کړه.»*

حزب التحریر- ولایه اردن د حزب التحریر د یوه شباب ماتم کوي:

### استاد عمر عارف العمري (ابو رامي)

چې د ۲۰۲۴م کال، د جنوري په ۱۹مه نېټه، د جمعې په ورځ، د ۷۰ کلونو په عمر د الله سبحانه وتعالی حضور ته په داسې حال کې ولاړ، چې د یوه دعوتګر په توګه یې د راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره هلې ځلې کولې.

ابو رامي د ځوانۍ په لومړیو کلونو کې د حزب په لیکو کې شامل شو؛ ډېر فعال او صبور و او په خپل ټینګ ایمان یې د الله سبحانه وتعالی د رضا لپاره مبارزه کوله؛ د همدې لپاره یې د امنیتي ادارو لخوا ځور او شکنجه هم لیدلې. خو دغه کار یې هوډ او ثبات کم نه کړ او نه یې د حق له خپراوي او د دعوت څخه منع نه کړ. تر دې چې ناروغ او بلاخره وفات شو.

له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې هغه ته مغفرت وکړي؛ خپل بې ساری رحمت پرې ولوروي او په جنتونو کې یې له پیغمبرانو، صدیقینو، شهداوو او صالحینو سره یو ځای کړي. د الله سبحانه وتعالی له درباره څخه یې کورنۍ ته د زړه صبر او استقامت غواړو او خپل تسلیت ورته وړاندې کوو.

**إِنَّا للهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ**

**د حزب التحریر- ولایه اردن مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د رجب ۷مه**

**۲۰۲۴م کال، د جنوري ۱۹مه**

د صدور گڼه: ۰۸ / ۱۴۴۵

ژباړن: محمد حامد